# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**4دلو _سال 1402**



# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان صفحه

اقتصادي کمېسیون د حق‌العبور په بدل کې د کابل – جلال آباد د دویم سړک جوړولو پروژه تائید کړه ------------------1

زرو ښځه زيات مهاجرين په جبري توګه له ايران ځخه راستانه شول------------------------------------------------2

صد ها تن افغان طور اجباری از پاکستان، از سرحدات کشور عودت نمودند-----------------------------------------2

۳۰۰ ښځه زيات مهاجرين په جبري توګه له پاکستان ځخه راستانه شول -------------------------------------------3

نشست مشترک رییس امور مهاجرین ولایت ننگرهار، با نماینده گان، کمیشنری عالی ملل متحد در امور پناهنده گان برگزار شد 3

عودت ۱۰۵۰ مهاجر از ایران به کشور ----------------------------------------------------------------------4

برېتانيا: سناتورانو رونډا ته د کډوالو استولو ټرون رد کړ-------------------------------------------------------5

فنلنډ: له روسيې سره پر پوله د هرکلي له مرکزونو ښځه لسګونه کډوال لادرکه شوي--------------------------------7

ښېرنه: د کډوالۍ د نوي قانون له امله بنايي لېږترلږه ۱۱۰ زره کسان خپل ټولنيز حقونه له لاسه ورکړي --------------9

رهگیری حدود ۲۰۰ مهاجر در نزدیک جزیره قبرس --------------------------------------------------------10

بدرفتاری و اخراج؛ تجربه تلخ شهروندان کشور در ترکیه و ایران ---------------------------------------------12

# متن کامل اخبار

## اقتصادي کمېسیون د حق‌العبور په بدل کې د کابل – جلال آباد د دویم سړک جوړولو پروژه تائید کړه

د باختر اطلاعاتی آژانس




د اقتصادي کمېسیون په نوبتي غونډه کې چې نن په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوه؛ د حق‌العبور په بدل کې د جلال آباد د دویم سړک جوړولو پر پروژې، د مازادو او خوراکي غنمو د پېرلو پر تګلارو، د کابل ولایت په ختیځه سیمه کې د برېښنایي دروازو د کمپلېکس پر جوړولو او یوشمېر نورو موضوعاتو بحث وشو.

باختر آژانس ته د ریاست‌الوزرا د اقتصادي معاونیت د مطبوعاتي دفتر په استول شوې خبرپاڼه کې ویل شوي چې د اقتصادي کمېسیون په غونډه کې چې د ریاست‌الوزرا د اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر آخوند په مشرۍ جوړه شوه؛ تر هراړخیز بحث وروسته پرېکړه وشوه چې د ټول پلازا/حق‌العبور په بدل کې د کابل – جلال آباد د دویم سړک جوړولو پروژه منظوره ده.

په همدې موخه ټولګټو وزارت ته لارښوونه شوې چې دغه پروژه د آزادې داوطلبۍ له لارې اعلان ته وسپاري او د سړک جوړونې د ټولو معیارونو په پام کې نیولو سره وړ شرکت انتخاب کړي. دغه راز یاد وزارت ته لارښوونه شوې چې د حق العبور په بدل کې د سالنګ لویې لارې لپاره جوړ شوی طرزالعمل دې پر دغه پروژه هم تطبیق کړي.

په غونډه کې د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت له لوري د مازادو غنمو او د امارتي مرکزي سیلو شرکت له لوري د خوراکي غنمو د پېرلو په اړه پر جوړو شویو تګلارو بحث شوی او تر هر اړخیز بحث وروسته، د اقتصادي کمېسیون د

تخنیکي کمېټې له لوري د راغلو تعدیلاتو په پام کې نیولو سره د یاد وزارت وړاندې شوې تګلاره تائید او د منظورۍ لپاره د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه مقام دفتر ته راجع شوې ده.

د دې تګلارې له مخې به د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د بزګرانو د ملاتړ په موخه د غنمو د حاصلاتو په موسم کې په مناسبه بیه غنم پېري او د اړتیا پر مهال به یې د بیو د کنټرول او احتکار د مخنیوي په موخه بازار ته وړاندې کوي.

د اقتصادي کمېسیون په غونډه کې، همدا رنګه د کابل ولایت په ختیځه سیمه کې د برېښنایي دروازو د کمپلېکس جوړولو طرحه هم منظوره شوې ده.

د دغې طرحې پر اساس به خصوصي سکټور د لسو کلونو لپاره د عامه – خصوصي مشارکت له لارې پانګونه کوي چې د لومړیو دوو کلونو پر مهال به ۵۱ سلنه او له درېیم تر لسم کال پورې به ۹۰ سلنه عواید د دولت خزانې ته جمع کېږي.

بر بنیاد این طرح سکتور خصوصی برای ده سال از طریق مشارکت عامه – خصوصی سرمایه گذاری می کند که در دو سال اول ۵۱ فیصد، از سه الی ده سال ۹۰ فیصد عواید وارد خزانه دولت می شود.

## زرو څخه زیات مهاجرین په جبري توګه له ایران څخه راستانه شول

د وزارت ویب سایت

ایران کې مېشت یو زر او ۱۵۰ تنه مهاجرین په جبري توګه د سلواغې پر دویمه نېټه د هرات اسلام کلا له لارې خپل هېواد ته راستانه شول

د هرات د اسلام کلا د سرحدي آمریت د راپور له مخې په دغو راستنېدونکو کې کورنۍ هم وې چې ۴۱۷ تنه یې اړمن وپېژندل شول او نورو مرستو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان ته ور وپېژندل شول او خوراکي او غیرخوراکي توکي یې ترلاسه کړل

دغه راز ۳۰ کورنیو ته لس لس زره افغانۍ ورکول شوې، ۲۷ تنه بې سرپرسته ماشومان د وار چایلډ موسسې ته ور وپېژندل شول او هلته په پوله کې د ګومارل شوو کمېټو له خوا ۱۰۸ تنو ته په وړیا ډول یو یو سیمکارت ووېشل شو.

## صد ها تن افغان طور اجباری از پاکستان، از سرحدات کشور عودت نمودند

ویب سایت وزارت

به اساس گزارش کمیته ها ی، کمیسیون رسیده گی برحل مشکلات برگشت کننده گان اجباری در سرحدات ولایات ننگرهار، قندهار، نمیروز،کابل،هرات و پکتیکا، ۱۰۴ خانواده بتاریخ ۲ دلو از کشور پاکستان طور جبری برگشت نموده و ا زخدمات کمیته های موظف در سرحدات یاد شده بهره مند شده اند.

۱۰۴ خانواده شامل ۳۸۳ تن از مرزهای سپین بولدک، تورخم، انگورهده، ورشیمو و اسلام قلعه وارد کشور، ثبت و بایو متریک، ۷ خانواده شامل ۴۰ تن به محلات اصلی شان انتقال و کرایه پرداخت شده، به ۵۵ خانواده کمک نقدی صورت گرفته، ۱۳۳ خانواده در کمپ های موقت جابجا، ۸۳۳ تن مورد تداوی قرار گرفته، ۳۱۵ قطعه سیمکارت، بسته های غذای آماده، آب آشامیدنی، البسه زمستانی از جانب کمیته ها ی موظف در سرحدات ولایات یاد شده توزیع شده است.

همچنان ازجانب کمیته های اطلاعات و محتسبین امر بالمعروف و نهی از منکر برای خانواده های یاد شده در مورد ثبت نام، انتقال، کمک مالی، اسکان کوتاه مدت و شناخت کشور، نظام اسلامی، هجرت، صبر و تحمل، آموزش و پرورش معلومات مفید به مهاجرین داده شد.

د ه ها تن که دارای اسناد حرفوی و مسلکی بودند شناسایی و برای اطفال برگشت کننده در مورد مواد منفجره، نظافت، حفاظت و آگاهی عمومی ارایه شده داد و برنامه های بازی و سرگرمی نیز به منظور سلامت روان در اختیار آنان قرار گرفته است

## ۳۰۰ څخه زیات مهاجرین په جبري توګه له پاکستان څخه راستانه شول

د وزارت ویب سایت

پاکستان کې مېشت ۳۱۷ تنه افغان مهاجرین د سلواغې پر دویمه نېټه د تورخم او سپین بولدک له پولو څخه هېواد ته راستانه شول

د کندهار د سپین بولدک د سرحدي آمریت د راپ،ر له مخې ۳۴ کورنۍ چې ۱۸۴ تنه کېږي او ۲۳ تنه نور چې هلته له زندانونو ازاد شوي وو په جبري توګه هې،اد ته راستانه شول او د مهاجرینو په اداره کې تر نوملیکنې وروسته د مرستو په موخه د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍو د مهاجرت او خوړو نړیوال سازمان دفترونو ور وپېژندل شول او ۲۱ بې سرپرسته ماشومان د MPO موسسې ته ور وپېژندل شول

هرې کورنۍ سره د ګومارل شوو کمېټو له لوري لس لس زره افغانۍ مرسته وشوه

د ننګرهار د تورخم سرحدي آمریت د راپور له مخې ۲۲ کورنۍ چې ۱۱۰ تنه وو په جبري توګه له پاکستان څخه راستانه شولاو د مهلجرینو په اداره کې تر نوملیکنې وروسته د مرستو په موخه د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ او د مهاجرت نړۍوال سازمان دفترونو ته ورپېژندل شول.

## نشست مشترک رییس امور مهاجرین ولایت ننگرهار، با نماینده گان، کمیشنری عالی ملل متحد در امور پناهنده گان برگزار شد

ویب سایت وزارت



باز محمد عبدالرحمن، رییس امور مهاجرین و عودت کننده گان ولایت ننگرهار، با نماینده گان کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان، بتاریخ ۲ دلو در دفتر کارش نشستی مشترک را برگزار نمود.

در این نشست خانم شوکو شیمو زاوا، رئیسه اکمالات و هیات همراه وی حضور داشتند.

**در این روی موضوع حل مشکلات مهاجرین عودت کننده و همچنین رسیده گی به آنان بحث صورت گرفت.**

**رییس مهاجرین خواستار همکاری برای مدیریت موج دوم مهاجران برگشت کننده از پاکستان و کمک به آنها در زمینه های مختلف شد.**

**وی گفت که مهاجران افغان در پاکستان تجارت، ارتباطات قومی و دارایی دارند و باید به آنها فرصت داده شود تا همه امور خود را تصفیه دهند و با عزت به افغانستان برگردند.**

**وی خواستار تمدید اقامت مهاجران افغان در پاکستان، همکاری با خانواده های عودت کننده در ارایه کمک های نقدی، غذایی، غیر خوراکی، سرپناه، زمین و سایر شد و مشکلات خانواده های آسیب دیده بازگشته را به آنان توضیح داد.**

**رئیس امور مهاجرین ولایت ننگرهار از همکاری و مساعدت گذشته آن کمیشنری قدردانی نموده و به آنان اطمینان داد که در تمامی امور حقوقی هماهنگی و همکاری بهتری دارند.**

**آقای هی شیلو، رئیس خدمات پشتیبانی، دفتر آسیا و اقیانوسیه،از تمامی کارمندان ریاست امور مهاجرین که تا کنون به اتفاق همکاران خود به مشکلات عودت کننده گان، بیجا شده ها و آسیب دیده گان کمک کرده و همکاری نموده اند، تشکر نمود و به همین دلیل کار آنها به ویژه در زمینه کمک به خانواده های بازگشته موفق بوده و ادامه دارد.**

**وی گفت که با مقامات دولتی پاکستان در مورد وضعیت مهاجرین افغان و تمدید اقامت آنها صحبت کرده است. اما از صحبت های آنها معلوم می شود که پس از زمستان دوباره موج بازگشت مهاجرین آغاز خواهد شد.**

**وی افزود مشکلات و پیشنهادات مهاجرین افغان در پاکستان را نیز شنیده است که آنها در هنگام بازگشت با مشکلات زیادی روبرو هستند و سعی خواهند کرد در این مورد با مقامات پاکستانی صحبت کنند تا آنها بتوانند تصمیمات خود بهتر انجام دهند.**

**وی همچنین اطمینان داد که به همکاری با مهاجرین بازگشته در زمینه کمک های بشردوستانه، سرپناه ادامه خواهد داد.**

**همچنین در راستای توسعه فعالیت خود پیشنهاداتی را در زمینه های مختلف ارائه نمودند که مورد اطمینان ریاست امور مهاجرین قرار گرفت.**

**و در پایان، رئیس امور مهاجرین، از هرگونه همکاری حقوقی در زمینه کمک رسانی به عودت کننده توسط تمامی نهادهای داخلی و خارجی از جمله کمیشنری عالی ملل متحد در امور پناهنده گان اطمینان داد.**

## عودت ۱۰۵۰ مهاجر از ایران به کشور

آژانس اطلاعاتی باختر



**یک هزار و ۵۰ مهاجر در ۲۴ ساعت گذشته ازطریق مرز اسلام قلعه هرات به وطن عودت کردند.**
**دفتر رسانه های وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان با ارسال خبرنامه یی به آژانس باختر نگاشته است: به اساس معلو مات آمر سرحدی اسلام قلعه، از میان افراد مذکورکه شامل خانواده ها ومجردین بودند، ۴۱۷ نفر آنها نیازمند شناسایی شده وغرض دریافت کمک به دفتر سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند ومواد غذایی وغیر غذایی را دریافت کردند.**

## بریټانیا: سناتورانو روندا ته د کډوالو استولو ترون رد کړ

مهاجرنیوز



**د برېتانیا د مشرانو جرګې استازو د روڼوالي کمیټې د راپور په تاییدولو سره له حکومته غوښتي دي چې له روندا سره د کډوالو د استولو تړون لغوه کړي. د دې راپور له مخې روندا د کډوالو لپاره خوندي نه ده .**

**د برېتانیا پارلمان ۲۱۴ سناتورانو د دوشنبې په ورځ د جنورۍ په ۲۲مه د روڼوالي کمیټې هغه راپور تایید کړ چې له مخې یې روندا د کډوالو لپاره خوندي نه ده. په دغه راپور کې راغلي دي چې د لندن او کیګالي ترمنځ نوي تړون کې درج شوې ژمنې کافي نه دي. د مشرانو جرګې پاتې ۱۷۱ استازو دغه راپور ته منفي رایه ورکړه.**

**د راپور موافقانو له پارلمان څخه غوښتنه وکړه، تر هغه پورې چې د لومړي وزیر ریشي سونک د حکومت وزیران د روندا د خوندیتوب په اړه کافي اسناد او ضمانتونه ور نه کړي د یاد هوکړه لیک له تاییدولو څخه ډډه وکړي.**

**که څه هم دا پرېکړه د قانون د تصویبېدو مخه نه شي نیولی، خو د ریشي سونک د کډوالۍ سیاستونه تر پوښتنې لاندې راوستلی شي. تمه ده چې راتلونکې اونۍ به مشرانو جرګه کې د یاد تړون پر سر بحثونه پیل شي.**

**دا هم ولولئ**
**<u>د برېتانیا د پارلمان استازو روندا ته د کډوالو د استولو قانون تصویب کړ</u>**

**وروسته له هغه چې د برېتانیا سترې محکمې د ۲۰۲۳ په جون میاشت کې روندا ته <u>د کډوالو استول غیرقانوني وبلل</u>، د برېتانیا حکومت د دېسمبر په لومړیو ورځو کې د غیرقانوني مهاجرت د مخنیوي په موخه له روندا سره نوی تړون لاسلیک کړ. د دغې هوکړې له لاسلیک مخکې د برېتانیا د کورنیو چارو وزارت په یوه خبرپاڼه کې ویلي وو، وروستي متن کې د سترې محکمې ملاحظات په پام کې نیول شوي او اجازه نه ورکوي چې کډوال له روندا سره نورو هېوادونو ته واستول شي.**

له نړیوالو قوانینو سره په ټکر کې

خو د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونه اداره بیا دا متن هم له نړیوالو قوانینو سره په ټکر کې بولي. دغې ادارې د یاد تړون تر ارزونې وروسته وویل چې یاد متن «د پناه غوښتونکو د انتقال د مشروعیت شرایط» نه پوره کوي. د ملګرو ملتونو عالي کمېساریا برېتانیا له جنېوا کنوانسیون څخه په سرغړونه تورنوي او وايي چې دغه هېواد ته د کډوالو د تګ لپاره باید خوندي او قانوني لارې پرانیستل شي.


د برېتانیا اوسنی لومړی وزیر ریشي سونک له ناقانونه کډوالۍ سره مبارزه خپل لومړیتوب بولي. که څه هم نوموړي د روان کال په پیل کې ویلي وو چې حکومت يې په ۲۰۲۳ کې د کډوالو دوسیو ارزولو کې ځنډ له منځه وړی دی، خو رسمي شمېرې ښیي چې دمګړی برېتانیا کې نږدې ۱۰۰ زره دوسیې لا هم بې ځوابه پاتې دي.

دا هم ولولئ
د کډوالۍ مخنیوی: برېتانیا له رونډا سره نوی تړون لاسلیک کړ

په ۲۰۲۳ کې نږدې ۳۰ زره کډوال د سمندر له لارې برېتانیا ته اوښتي، خو په ۲۰۲۲ کې بیا دا شمېر ۴۵ زره تنه وو. د فرانسې په شمالي سواحلو کې د امنیتي تدابیرو ډېرېدل او همدارنګه په ۲۰۲۲ کې د برېتانیا او البانیا ترمنځ د مهاجرو د مخنیوي تړون د اوښتونو کډوالو د شمېر د کمېدو لاملونه بلل کېږي.

## فنلنډ: له روسیې سره پر پوله د هرکلي له مرکزونو څخه لسګونه کډوال لادرکه شوي

مهاجرنیوز



د فنلنډ د کډوالۍ اداره وايي له روسيې سره پر پوله د کډوالو د هرکلي له مرکزونو څخه ۱۶۰ کسان لادرکه شوي دي. ياده اداره زياتوي احتمال لري چې دغه پناه غوښتونکي د اروپايي ټولنې نورو هېوادونو ته تللي وي.

د فنلنډ د کډوالۍ اداره وايي د ۲۰۲۳ له سپټمبر څخه تر ډېسمبر پورې له روسيې سره پوله ۱۳۲۳ کسانو د پناه غوښتنه کړې ده. له دې ډلې څخه ۹۰۰ تنه يې په نومبر او پاتې ۳۰۰ تنه په ډېسمبر مياشت کې فنلنډ ته دننه شوي وو.

د کډوالۍ ادارې مشر انتي لېتينين ويلي دي، د هرکلي له مرکزونو څخه ۱۶۰ کسان لادرکه شوي او تر اوسه يې موقعيت معلوم نه دی. هغه زياته کړې ده: «امکان لري چې لادرکه شوي کسان نورو هېوادونو ته تللي وي خو لا يې د پناه غوښتنه نه ده کړې.» ښاغلي لېتينين دا هم ويلي دي چې فنلنډ کې د ټولو پناه غوښتونکو د ګوتو نښې اخيستل شوې او معلومات يې په اروپايي ډېټابېس کې ثبت دي.

د رويترز د خبر له مخې له دې ډلې څخه ۱۸ تنه يې په هالنډ، بلجيم، ناروې، سوېډن، فرانسه، جرمني او سويس کې موندل شوي دي .

دا هم ولولئ
د روسيې او فنلنډ پر پوله زرګونه کډوال راټول شوي




د فنلنډ او روسيې ترمنځ ناندرۍ

د روسيې او فنلنډ ترمنځ پوله د ۲۰۲۳ له نومبر میاشتې راهیسې د خلکو د تګ راتګ پر مخ تړلې ده .هلسېنکي مسکو په دې تورنوي چې د فنلنډ د وضعیت د بې ثباتولو لپاره له کډوالو څخه ابزاري ګټه اخلي. دغه اروپايي هېواد وايي مسکو هڅه کوي فنلنډ کې، چې د ۲۰۲۳ په اپریل میاشت کې یې د ناټو غړیتوب ترلاسه کړی، سیاسي او امنیتي وضعیت بې ثباته کړي. خو روسیه بیا دغه اعادوې ردوي.

رسنیو څو ورځې مخکې راپور ورکړی و چې د فنلنډ او روسیې ترمنځ د وروستۍ لار له تړل کېدو راهیسې په دغه سرحدي سیمه کې له ۲۰۰۰ څخه تر ۳۰۰۰ کډوال راټول شوي دي .د لوموند ورځپاڼې د خبر له مخې ډېری دغه کسان له قانوني اسنادو سره روسیې ته ورغلي او وروسته بیا د روسي پولیسو په مرسته د روسیې او فنلنډ ترمنځ سرحدي سیمې ته رسېدلي دي.

فنلنډ له روسیې سره ۱۳۴۰ کیلومتره ګډه پوله لري. د روسیې او فنلنډ ترمنځ د خنډونو د جوړېدو کار د ۲۰۲۳ په فبروری کې پیل شو. د فنلنډي چارواکو په خبره دغه سرحدي دېوال ۳ متره لوړوالی او ۲۰۰ کیلومتره اوږدوالی لري.

دا هم ولولئ

د فنلنډ او روسیې پر پوله لسګونه کډوال بند پاتې دي

## څېړنه: د کډوالۍ د نوي قانون له امله بنايي لږترلږه ۱۱۰ زره کسان خپل ټولنیز حقونه له لاسه ورکړي

مهاجرنیوز

په یوه څېړنه کې چې د جنورۍ په ۱۹مه خپره شوې ده راغلي چې بنايي د فرانسې د کډوالۍ د نوي قانون له توشیح کېدو سره د ۳۰ زرو ماشومانو په ګډون شاوخوا ۱۱۰ زره بهرنیان خپل ټولنیز حقونه له لاسه ورکړي.

د عامه خدماتو د کارکوونکو کولکتیف چې «زموږ عامه خدمات» نومېږي د یوې مقالې په خپرولو سره خبرداری ورکړی دی چې د کډوالۍ د نوي قانون د توشیح کېدو په صورت کې به د زیات شمېر ماشومانو په ګډون لږترلږه ۱۱۰ زره ډېر کسان د بې وزلۍ له خطر سره مخامخ شي.

دغه مقاله د جمعې په ورځ د جنورۍ په ۱۹مه د یو شمېر حکومتي کارپوهانو او کارکوونکو له خوا خپره شوه. د څېړنې چمتو کوونکو لیکلي دي چې د «ملي ارجحیت» اصل چې په نوي قانون کې په پام کې نیول شوی د ماشومانو په ګډون اړمن خلک د بې وزلۍ له ګواښ سره مخامخوي او د دې سبب کېږي چې دغه زیان منونکي کسان خپل ټولنیز حقونه له لاسه ورکړي.

دا لومړۍ لیکنه ده چې پکې د کډوالۍ قانون د ناوړه اغېزو په اړه خبرداری ورکړل شوی او د یو شمېر اقتصاد پوهانو او همدارنګه «د مالي او ټولنیزو عایداتو «په نوم د انسي د راپور پر اساس چمتو شوې ده.

»ناعادلانه چلند«

د دغه کولکتیف ویاند ارنو بونتان له فرانس انفو ټلویزون سره خبرو کې ویلي که چېرې دغه قانون نهايي شي، نو په میاشت کې به د ځینو کورنیو عایدات ډېر کم شي.

د کډوالۍ د په نوي قانون کې له بهرنیانو سره ټولنیزې مرستې مشروطې شوې دي. دا په دې مانا چې هغه بهرنیان چې کار نه کوي له آ پې ال

**ځخه د برخمن کېدو لپاره باید پنځه کاله فرانسه کې اوسېدلي وي، خو د کسب او کار خاوندان بیا تر ۳ میاشتو وروسته ترې برخمن کېدلی شي. همدارنګه هغه بهرنیان چې کار نه کوي د کرایې پرته له نورو ټولنیزو مرستو ځخه د برخمن کېدو لپاره باید پنځه کاله فرانسه کې اوسېدلي وي، خو د کسب او کار خاوندان تر ۳۰ میاشتو وروسته ترې برخمن کېدلی شي.**

**د یاد کولکتیف په خبره، دغه شرطونه چې یوازې د غیر اروپایي بهرنیانو لپاره ایښودل شوي کولی شي چې د اړمنو کسانو د ژوند شرایط نور هم سخت کړي او ورسره د «ناعادلانه چلند» سبب وګرځي.**

دا هم ولولئ
<u>د فرانسې د کډوالۍ نوي قانون کې مهم ټکي څه دي؟</u>

**ښایي حداکثر ۷۰۰ زره کسان ترې اغېزمن شي**

**د مقالې له مخې به د دې قانون له امله له هرو دوو ماشومانو ځخه یو یې له شدیدې بې وزلۍ سره مخ شي. دغه کولکتیف د قانون د ناوړه اغېزو په اړه ځینې مثالونه ورکړي دي. د بېلګې په توګه صوفیا او اسماعیل دواړه په فرانسه کې زیږېدلي دي، والدین لري او والدین یې همدلته اوسیږي. خو د اسماعیل والدین فرانسوي نه دي او د میاشتې په پای کې له ټولنیزو مرستو ځخه نه برخمن کیږي.**

**ارنو بونتان وایي چې یاد قانون کولی شي چې د هغو فرانسوي ماشومانو پر ژوند هم ناوړه اغېز وکړي چې والدین یې له نورو هېوادونو ځخه راغلي دي. په وینا یې دغه بېلګې ښیي چې د نوي قانون له امله د فرانسوۍ کورنیو د ژوند شرایط د پخوا په شان پاتې کیږي او ښه کیږي نه، خو د بهرنیانو د ژوند شرایط نور هم خرابیږي.**

**نومو‌ړی زیاتوي چې دا قانون حداکثر ۷۰۰ زره کسان اغېزمنولی شي، خو حداقل شمېر یې بیا ۱۱۰ تنو ته رسیږي.**

**له تېرې اونۍ راهیسې د فرانسې په ځو ښارونو کې زرګونو کسانو <u>د کډوالۍ د نوي قانون پر وړاندې لاریونونه کړي</u> او د دغه قانون د لغوه کېدو غوښتنه یې کړې ده. پرون یکشنبه د جنورۍ ۲۱مه د فرانسې په پلازمېنه پاریس او نورو ښارونو کې یو ځل بیا مظاهرې وشوې. د سندیکاګانو په خبره دغو مظاهرو کې شاوخوا ۱۵۰ زرو کسانو ګډون درلود، خو پولیس بیا د مظاهره کوونکو شمېر ۷۵ زره تنه بولي .**

**تمه ده چې د اساسي قانون شورا د جنورۍ په ۲۵مه د کډوالۍ د نوي قانون په اړه پرېکړه وکړي .**

## رهگیری حدود ۲۰۰ مهاجر در نزدیک جزیره قبرس

مهاجرنیوز




گارد ساحلی قبرس روز یکشنبه در بخش شرقی این جزیره از ادامه سفر ۱۸۸ مهاجر جلوگیری کرد. اعضای این گارد به دنبال مردی می‌گردند که پس از مشاهده آن ها خود را به آب پرتاب کرده است.

رادیو و تلویزیون دولتی قبرس «ار ای ک» با رجوع به نهادهای دولتی گزارش داد که حدود ۲۰۰ مهاجری که رهگیری شده اند، از لبنان به این منطقه آمده اند. گفته می‌شود که آن ها در سه قایق مختلف سفر می‌کردند.

بنا به این گزارش، گارد ساحلی هنوز به دنبال مردی می‌گردد که پس از دیدن ماموران خود را از درون یکی از قایق ها به آب پرتاب کرده است. به گفته مهاجران دیگر او می‌خواسته خود را به وسیله شنا به ساحل برساند.

در آن زمان قایق او حدود دو مایل دریایی (تقریبا ۷.۳ کیلومتر) از ساحل قبرس فاصله داشته است.

بیشتر بخوانید :بیش از ۲۵۰ مهاجر در نزدیکی قبرس دستگیر شدند

در ادامه گزارش رادیو و تلویزیون دولتی قبرس آمده است که شمار قابل توجهی از این مهاجران خوردسال هستند. پس از رهگیری این مهاجران، مشخص نشده بود که آنان، شهروندان کدام کشورها اند.

قبرس که عضو اتحادیه اروپا است، بنا به آمار این اتحادیه به نسبت جمعیتش و در مقایسه با کشورهای دیگر عضو بیشترین تعداد درخواست های پناهندگی را دریافت کرده است. کمپ های ثبت و پذیرش پناهجویان در این جزیره بیشتر از ظرفیتی که در آن مسکن گزین شده اند، نجایش ندارند. گفته می‌شود که این کمپ ها با کمک های مالی اتحادیه اروپا گسترش داده می‌شوند.

## بدرفتاری و اخراج؛ تجربه تلخ شهروندان کشور در ترکیه و ایران

طلوع نیوز

**مهاجرانی که به تازگی از ترکیه و ایران اخراج شده‌اند، از حکومت سرپرست خواسته‌اند که به چالش‌های اخراج‌شده‌ها به گونه جدی رسیدگی کند.**



**برخی مهاجران اخراج‌شده از ترکیه و ایران بازهم از بدرفتاری نظامیان این دو کشور در برابر شهروندان افغانستان شکایت دارند.**

**آنان گفته‌اند که مهاجران افغان از سوی پولیس ترکیه و ایران بازداشت و سپس لت و کوب و در نهایت اخراج می‌شوند.**

**خیرمحمد چهل ساله که سه بار از راه قاچاق به ترکیه رفته و اخراج شده است؛ گفت: «آن‌جا رفتم تا برای خانواده یک لقمه نان پیدا کنم، آن‌جا نگهبان بودیم و پاسگاه آمد مره گرفت. آنان لت‌وکوب هم کرد«.**

**مهاجرانی که به تازگی از ترکیه و ایران اخراج شده‌اند، از حکومت سرپرست خواسته‌اند که به چالش‌های اخراج‌شده‌ها به گونه جدی رسیدگی کند.**

**تاج محمد اخراج‌شده از ترکیه گفت: «خواست ما از بزرگان همین است که برای ما یک کاری بکنند تا مجبور نشویم کشور را ترک کنیم«.**

محمد که از ایران خراج شده می‌گوید: «کار نیست، اقتصاد ضعیف است بنابراین جوانان کشور را ترک می‌کنند و آن‌جا هم که می‌روند مورد آزار و اذیت قرار می‌گیرند«.

با این حال، امارت اسلامی از چگونگی اخراج مهاجران افغان از سوی کشورهای میزبان انتقاد می‌کند و می‌افزاید که امارت اسلامی با مقام‌های ترکیه، ایران و برخی کشورهای دیگر برای جلوگیری از بدرفتاری با مهاجران افغان گفت‌وگو کرده‌اند.

ذبیح‌الله مجاهد سخن‌گوی امارت اسلامی گفت: «وضعیت مهاجران در هر دو کشور و کشورهای که افغان‌ها هستند نگران‌کننده است؛ اما امارت اسلامی با مسوولان آن کشورها گفت‌وگو کرده به شمول ترکیه، که اعمال فشار بالای مهاجران را بردارد«.

این در حالی‌ست که برخی رسانه‌های ترکی از بازداشت ۷۶ پناهجوی افغان در نقطه بازرسی روستای مرکزی تانریار آن کشور خبر داده‌اند.





خبرنامه